آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۱

# لارورکي لارویان

## دوه دیرشمه برخه

## نا لیدلې، نا پیژندلې لارې

زموږ د ډلې نه کوم یوه له قاچاقبر سره اړیکي ټینګې کړې وې، هغه ورته ویلي و چي تاسو کله له جیل نه را و وزئ، هر څه به جوړ شي.
میاشت پوره شوه، په ټاکلې ورځ مو کالي بدل کړل. مسؤلینو د زندان په انګړ کي په یوه لیکه کې، لکه د اردو سرتیري لین و درولو. هر چا ته یې یوه، یوه پاڼه په لاس کي ورکړه. په پاڼه کي په سلواکي او انګریزي ژبو دا متن لیکل شوی و:
«تاسو له هر ډول ترانسپورت نه په استفادې سره د څلیرویشت ساعتونو په اوږدو کې د سلواک له خاورې و وزئ، له ټاکلي مودې نه وروسته مو که بیا پولیس ونیسي، همدا زندان به مو ځای وي.»
زندانیان له یوې خوا له زندان نه د خلاصیدو په وجه خوښ وو او له بلې خوا یې خوښي په دې کې وه چي څلیرویشت ساعته اسناد یې په لاس کې وو.
زندان له ښاره وتلی د کرنیزو ځمکو په منځ کې ودان شوی و. د جیلر مسؤلیت دومره و چي موږ د ریل او بسونو عمومي تم ځای ته ورسوي. په موټر کې سپاره شوو او له خوشحالی نه په لاره هیڅ یوه نه شوو. ریل ستیشن کې چي له موټر نه ښکته شوو، سګرټیانو د دکانونو په لوري منډې کړې چي سګرټ واخلي.
د قاچاقبر د پیدا کولو نښه داسي وه :
کله چي تاسو د زندان له موټر نه ښکته شوئ، نو یو لوکس مرسدس بنز موټر راځي او په لوکسو جامو سمبال خلک به ستاسو هرکلی کوي، بیا نو څه چي هغوی درته ویل، پرته له دې چي وخت له لاسه ورکړئ، هغه به کوئ.
ما لا د ریل تمځي نندارہ کوله، لکه د شادګل خیال پلو چي: غر موټر ودرید، که ګورم یو ښایسته لوکس زلمی په کې ناست و. تیار لکه د هندي فلمونو د بدماشانو په څیر، د لاس په اشاره یې ور و غوښتم. زه هم لکه پخوانی پیژندګلوي چي ور سره لرم، په منډه ورغلم. پرته له سلام او ستړي مه شي نه یې وپوښتلم:
په روسي ژبه غږیدای شې؟
ما ویل هو.
بیا یې و ویل:
څو تنه یاست؟
ما وی نهه تنه یو.
ده په داسي حال کي چي ما ته یې نه کتل او لکه امنیتي ګارډ شاو خوا یې څارله، و ویل:
د دې ونو ترشا دوه تش موټر ولاړ دي، ملګرو ته دې و وایه چي په بیړه په هغو موټرو کي ځای پر ځای شئ.
موږ دا کار وکړ. پرته له کومي خبرې موټرو حرکت وکړ. د موټر رادیو موزیک غږاوه، ما دوه میاشتي وروسته موزیک اوریده، وربانديې نه پوهیدم چي د کوم وطن موزیک و او په سندره کي څه وایي. زما سترګي پټي وې، لکه خوب چي ګورم، د مرینا دې سندرې مې د ذهن په دهلیزونو کې آزانګې کولې:

**یاره بنجاریه لـــــونګ راوره**
**سرو شوندو له پاره مې رنګ راوړه**

نا ځاپه خپل دویم زوی لونګ جان را په یاد شو او بیا بې ټکټه، بې پاسپورټه، بې له ویزې او بې له مصرفه کور ته ورسیدم، سم دم ټولو سره وغږیدم. زه چي له کوره را وتلم، سپانده لور مې چي زما په ماشومانو کې تر ټولو وړه ده، اوه کلنه وه. هغې ته مې مخ ور واړاوه، ورته ومې ویل:

لورې، لورې،لورې
وښکالې د انګور یې

اوس خوبه دې ورونه نه زوروي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هغې ورو خپل سر زما پر ټټر کېښود او له ښکلې موسکا سره یې و ویل:
نه پلار جانه، اوس مې ټول نازوې، غمی لالا هره ورځ د آیس کریم له پاره پیسې را کوي...
زه لا د خپلو خیالونو په ټال کې زنګېدم، چې د موټر دریدو له ټال نه را وغورځولم. غږ شو، ښکته شئ.
دا د سلواک او چک پوله وه. د چک په لوري د حرکت شیبه نه وه مالومه، ځکه یې په ډېره بیړه یوه کور ته ننه ایستو، که ګورو د ورکو لارو یو څو نور سرګردانه مسافر هم ناست دي. دلته د ښځو او ماشومانو کوټه بیله وه او د نارینه وو دا بیله. زه له نویو مسافرینو سره نابلده وم، د سترې مه شې په ډول مو، سترې سرونه یو بل ته سره وښورول.
په دا نورو مسافرو نه پوهېږم، خو زموږ په ډلې ځکه شپه ښه تېره شوه چې دا مو له زندان نه د باندې لومړنۍ شپه وه. ما خو د درې ـ څلور شپو د ځنډېدو انګیرلې وه، خو د سهار په لسو بجو بیا د حرکت زنګونه په شرنګا شول.
د کور په انګړ کې یو کاماز موټر ولاړو، د موټر په لیدلو ما داسې فکر وکړچې په افغانستان کې یو، ځکه موټر ډېر زوړ او داسې لوځړې ترینه ختلې لکه لس کاله یې چې تخنیکي معاینه نه وي شوې.
مسافرین په موټر کې ځای پر ځای کړای شول، د موټرترپالونه کلک ور پسې وتړل شول او موټر حرکت وکړ. د ترپالونو له سوریو ښکاریدل چې موټر په فرعي لارو روان دی نه په اصلي لار.
زما د ډار د ځالې مرغانو بیا وزرونه وښورول، له ځان نه مې پوښتنه وکړه:
هر کله به یې د شپې په تیاره کې خوځولو، نن او اوس ولې په رڼا ورځ؟
په جیل کې د راکړل شوې پانې څلرویشت ساعتونه هم پوره وو، خو موږ یې نور د سلواک له حریم نه اړولي وو. د موټر سرعت شیبه په شیبه ډېریده، د ترپال له سوریو لیدل کیدل چې موټر اوس په لویه لار باندې، خپل مسیر ته سیخ شوی دی.
هر یو ځان ته په خپلو، خپلو ځُرتونو کې ډوب و، چې لړ وړاندې به څه پیښیږي. هوا سره وه، شړقنده باران اوریده، ټول غلي وو، موټر لړ غونډې ورو شو. ټولو خدایه، خدایه لرل، خو کوم یوه په زوره غږکړ:
خدایه خیر کړې، چې بیا پولیس نه وي. موږ ته ټول انسانان پولیس ښکاریدل، په خپلو سیورو مو هم کله، کله د پولیس خیال کاوه، موټر نور هم پسې ورو شو. د سپي غپا اټکلاً له نږدې ځای نه واوریدل شوه، د مساپرو تشویش نور هم پسې ډیر شو چې پولیس له سپیو سره ولاړ دي. په دې کې موټر ودرید، ترپال جګ شو، مسؤل سړي ویل خیر خیریت دی، ورسیدو، کوزشئ.
دا د چک د هیواد پلازمینې پراګ په اطرافو کې له ښاره وتلی کوم کلی و. په دې کلي کې ایله لس دولس کورنه وو. موږ یې هلته په یوه کور کې ځای پر ځای کړو. دا د هغې سیمې د یوې ښځې کور و، چې هغه هم د انسان د ترافیکو په دې خطرناکه لوبه کې شامله وه. ښځه به د شپیتو کلونو په منګ وه. دا ډېره زړه وره، غټ اندامه او هیبتناکه ښځه وه. هر کله به یې په آمرانه لهجه خبرې کولې.
د اوریدو له قراره، اصلي قاچاقبر هره شپه د هر مسافر د ساتنې له پاره هغې ته لس ډالره ورکول. نور خرڅ، خوراک، ځای او ساتل د ښځې پرغاړه وو. د ټولو مسافرو له پاره یو مبایل و، چې له هرې خوا به هر یوه ته زنګونه راتلل.
په دې کور کې درې کوټې وې. په یوه کې چې ښه لویه وه د څلویښتو په شا وخوا کې نارینه ګان اچول شوي وو. د کوټې لویه کړکۍ د سرک پر لوري خلاصه وه، اول عادي پردې او بیا برستن ډوله پردې ورته پرتې وې او د خلاصولو اجازه یې نه وه. د کوټې بله کړکۍ د حویلی او باغچې په لوري وه. دا اصلاً کړکۍ نه، بلکې ډېره وړه دریڅه وه، کوټه کې به د کنه ګوټې له کبله دومره بوی و چې کله به ما احساس کاوه چې نور کوما ته ځمه، مجبوراً په همدې کوټه کې باید ناست وای.
بله کوټه د لویې کوټې په نیمایي اندازه وه چې د ښځوو او ماشومانو له پاره ځانګړې شوې وه.
د کور خاونده چې د اوس له پاره په دې کور کې زموږ پر سر ټولواکه وه او هر حکم یې پرته له ځنډه د تطبیق وړ و، د هر یو مسافر له غوږه تیره کړې وه چې په زوره خندا او غږیدل منع دي. یوه کوټه تشه وه. ښه کوچونه، تلویزیون او د کور نور ضروري شیان په کې ایښي وو، دلته ناستی منع او ناشونی و، یوازې په یوه کوچ باندې یوه غټ سپې ډډه اچولې وه او موږ ته یې رنې، رنې کتلې. د سپي له کتلو هر سړی پوهیده چې سپی له ځان سره وایې:
«دا مخلوقات له کومه راغلي او...»
په اول کې د کور خاوندې میرمنې په ډېره نرمه مؤدبانه روسي ژبه هر یوه ته و ویل:
«ګورئ! دې کوټې ته مه راوزئ، دننه کېنئ او...»
خو چاته وایې. له دې ټولو سره، سره به بیا هم یو نیم وتلی و، هلته به ناست و او سپي ته به یې برګ، برګ کتل. د ښځې چې حوصله خلاصه شوه، نو هلته ناست شخص ته یې و ویل:
«له تاسو نه دا سپی ډیر ښه دی، چې ورته و وایم کینه! کیني، چې ورته و وایم ځه! ځي، چې ورته و وایم راشه! راځي؛ خو تاسې...»
د قاچاقبر استازی په همدې کور کې تیار موجود و او کارونه یې سمبالول، هر مازدیګر به یې څلور یا پنځه تنه خوځول، څلور شپې وروسته ما ته له یوې ډلې سره نوبت ورسید، چې د جرمني پولې په لوري وخوځیږو. هر مسافر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته به چې د جرمني په پولو اوښتل، د جرمني ستونزې او په تېره جرمن پولیس ور په یادیدل، له ډاره به یې ویښته پربدن را نیغ شول، د تیریدو نه، بلکې د نیول کیدو، بیرته را ګرځولو او بیرته لیږلو فکرونه به پرې غالب شول؛ دا ځکه چې د جرمني پولیس ډیر جدي برخورد کوي او له ټولو مهمه دا چې نه تطمیع کیږي.
موږ هم د خپل واک نه وو، غږ وشو چې د دغو کسانو پچه ختلې ده، په پټه ټولو ته و ویل شول چې مازدیګر مهال د حرکت له پاره چمتو شئ. په ټاکلي وخت چې له کوره وایستل شوو، د کورمخې ته یو لوکس د کال ماډل ټکسي ولاړ و.
ما فکر وکړ چې سړیه لکه چې اوس دې دا خلک په قدر پوه شول، چې د کال ماډل موټر یې در ته را غوښتی دی، ډیر وروسته چې په اروپا کې مې ژوند قانوني شو او په خپله مې ټکسي چلول پیل کړل، په دې پوه شوم چې په اروپا کې د دې له پاره چې بزنس ښه وچلیږي، باید ټول ټکسیان لوکس او نوي وي.
د ټکسي ډریور مو لکه د ترور زوی چې وي، په خوږه خندا کې یې په خپله ژبه څه و ویل، موږ داسې پوه شوو چې مهرباني. موټر حرکت وکړ، نور نه خبره وه نه خندا، بس زموږ چُرتونه وو او د جرمني پولیس.
د پراګ له هغې سیمې نه یې چې موږ وخوځولو، هرې خوا ته به دې چې کټل تپې وې، داسې تپې لکه لاسي چې جوړې شوې وي، دا تپې ټولې په ونو پټې وې، ما له موټر نه د تپو او د هغو له پاسه د ونو ننداره کوله. دا وخت منی و، طبعي منی، نه په زوره راوړل شوی منی.
د ونو پاڼې تر نیمایي ډیرې زیړې او نورې شنې یا نیمه شنې وې، ما ویل ګڼې دا د افغانستان خلک دي چې په دوو برخو ویشل شوي دي او جګړه سره کوي؛ خو پاڼو جګړه نه؛ مینه سره کوله. باد به چې ښورولې او یو په بل سره لګیدې؛ تا به ویل چې یو بل په غیږ کې سره نیسي او سره ښکلوي.
په ونو کې د زیړو پاڼو شمیر ډیروو. باد به چې لږ په زور کې شو، ژیړه پاڼه به یې له بیخه وشکوله او ښکته به یې په مځکه وغورځوله، خو شنې پاڼې به رپیدې لکه اتڼ چې کوي.
ما ته بیا د افغانستان مظلوم ژیړ رنګي خلک را په یاد شول چې غم، لوږه او جګړه یې څنګه ډیر ژر له پښو غورځوي او بیا تورو خاورو ته لیږدول کیږي، مګر واکداران، شتمن او ټوپکوالا اتڼ کوي.
زه د خپلو چرتونو په ټال کې زنګیدم چې ټکسي د تیلو ټانک په یوه اړخ کې ودرید. موږ فکر کاوه چې ګڼې له سرحد نه اوښتي یو، خو د جرمني له سرحد نه چیرې څوک داسې وړیا او په کراره تیریدای شي.
بل موټر راغی برابر د ټکسي په اړخ کې ودرید، په بیړه یې په بل موټر کې ځای پر ځای کړو، لکه فلم چې ګورې بیا حرکت.
پر موږ باندې د پولیس د ډار بار دومره دروند پروت و چې د موټر د راغلې لارې په اندازه پوه نه شوو چې څومره وه؛ خو موټر چې لږ ورو غوندې شو، نو کتل مو چې بیا لکه افغانستان تیاره په غوړیدو وه.
موټر له ورو کیدو سره سم په څو کوڅو کې تاو را تاو شو او په پای کې د یو ګاراژ ډوله دروازې مخې ته ودرید. لکه چا چې زموږ لارې څارلې، دروازه بیرته شوه او موږ ته د ژر ننوتلو و ویل شول.
په ګاراژ کې داسې تورتم و چې د ناستې ځای مو نه شو لیدلای چې چیرې کینو. ننوتو سره سم د باد د غږ او خپل څپهاري په ترڅ کې څه ګونګوسی او شور ځوږ مو ترغوږ شو. دا له موږ نه مخکې راوستل شوي مسافر وو. موږ کې چا څه و ویل، هغوی پوه شول چې نوی راوستل شوی خلک هم افغانان دي، په هغو کې یوه تن غږ وکړ:
«راځئ کینئ، موږ هم مسافر افغانان یو.»
په دوی کې یو نارینه، یوه میرمن او پنځه ماشومان وو چې ټول د یوې کورنۍ غړي وو.
په تیاره کې مو ورو- ورو خبرې کولې. سره له دې چې په دې ځای کې د لنډې مودې له پاره تم وو، خو بیا هم د څلورو ساعتونو له پاره څه کوې چې د څلورو دقیقو له پاره هم د زغم وړ ځای نه و. دلته دا غم بوټ و چې له یوې خوا د باد غورکا وه او له بلې خوا داسې بوی و چې په نورو بویونو به دې شکر ایسته. له بده مرغه چې په څنګ کې مو د خوکانوغوجل وه او داسې رمباړې یې وهلې چې د باد له غورکا سره یې بل ډول وحشت جوړاوه.
درې څلور ساعته وروسته یو بل موټر راغی، په کې سپاره یې کړو. په سرکونو کې تاو را تاو شو، موږ په لورې نه پوهیدو. شرق غرب او شمال جنوب نه و را مالوم، له لنډې مودې وروسته یې د یوه ځنګله په څنګ کې ښکته کړو، دلته هم تپه وه، سړی مخکې شو او موږ ور پسې.
موږ ټول چُست روان وو، یوازې زموږ یو ملګری چې ډیر پنډ و، ستونزمن ګامونه یې اخیستل. د تپې نیمایي ته چې ورسیدو، و ویل شول چې همدلته کینئ. شیبه وروسته د پاڼو شرهاری شو، خلک را روان وو او ګونګوسی یې له ورایه اوریدل کیده. چې را نږدې شول، وموليدل چې دوه نارینه وو، دوې ښځې او دوه درجنه ماشومان. موږ په سترګو کې یو بل ته سره و ویل:
موږک خپله په سوري نه ځایده، چج یې هم لکۍ پورې وتاړه. موږ ځانونه نه شو وړلای، اوس دا ماشومان هم را له غاړې شول.
قاچاقبرانو به معمولاً هغو مسافرینو ته چې ماشومان به یې ډیر وو، وعدې ور کولې چې موږ مو ماشومان رسوو، موږ نفر لرو چې تاسو سره مرسته وکړي او... بیا به یې ماشوم داره کورنۍ له داسې مسافرو سره یو ځای خوځولې چې هغوی به یوازې وو. په لارو کې به یې ور ته ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تاسو خو ټول افغانان یاست، اوس په یوه کشتۍ کې سپاره یئ، راځئ ونیسی دې کورنۍ سره مرسته وکړی، ماشومان یې ور سره واخلئ چې وړی یې نه شي، اوبال دی، نه ویل کیږي خدای مه کړه څه پرې ونه شي او...
مجردو او بې پرابلمه ځوانانو ماشومان په غیږ کې چلول او آکثرو کورنیو به فکر کاوه چې دا د قاچاقبر نفر دی چې له دوی سره مرسته کوي.
په دې شپه هم په ځنګله کې د مسافرو یوه اتلس کسیزه ډله جوړه شوه، ټول یې په یوستوي لیک کې ودرول، یو تن د کتار په سر کې بل یې په آخر کې او مارش.
د تیارې وزرونه هرې خوا ته غوړیدلي وو، هم زموږ سرنوشت نامالومه او تک تور و او هم لاره کې څه نه لیدل کیدل. هیڅ چا څه نه ویل، یوازې د هر قدم له اوچتولو سره د وچوپاڼو شرهاری اوریدل کیده او بس.
له پورته تګ او لږ څه ساړه شمال نه پوه شوو چې د تپې سر ته وختو. تپه په ونو پوښلې وه او منظم خامه سرک په کې تیر شوی و. په سرک باندې تګ دومره ستونزمن نه و، خو موږ یې ځکه د ونو په منځ کې خوځولي وو چې له یوې خوا په سرک باندې د موټرناڅاپي راتګ شونی و او له بلې خوا د ډیر خطر احساس ځکه کیده چې نور د جرمني خاورې ته ډیر ور نږدې شوي وو.
د تپې سر ته په رسیدو سره د دریدو غږ وشو. یو کاریز ډوله اوبه خور غوندې ځای و چې د پاسه یوه وړه کوټنۍ ور باندې ولاړه وه، دواړه مسؤلین کوټنۍ ته داسې په بلدتیا ور ننوتال لکه د خپلې ادکې مور کور یې چې وي، څه ګونګوسی یې سره وکړ او بیرته په بیړه را و وتل. زما په خیال چې دوی خپل پاسپورتونه او نور ور سره اسناد هلته پټ کړل چې که پولیس یې ونیسي، چې پوه نه شي چې دوی د کوم وطن اوسیدونکي دي.
د اروپا پولیس، په تیره د جرمني پولیس ډیر جدي او تند برخورد لري. د خپل وطن او خپلو ملي ګټو د ساتلو په خاطر د قانون په چوکاټ کې د هیڅ شي خیال نه ساتي، د هیڅ چا مراعات نه کوي او حتی که د پیسو وړاندیز ور ته وشي، دا په خپله د هغو په وړاندې یو جرم دی. په ټوله اروپا کې په تیره جرمني کې د پولیسو امکانات ډیر دي. موټر، موټرسایکل، طیارې، کمرې، وسلې او هر ډول نور امکانات یې په واک کې دي، چې د خپلو خلکو او پولو ساتنه وکړي.
موږ ټول د ډار له درانه پیټي سره مخ په ځوړ روان وو، د ځنګله له منځه په وتو سره پراخې کروندې په مخه راغلې.
د ونو د یوه منظم کتار په اړخ کې چې نسبتاً ښه پناه ځای ګڼل کیده، روان وو. د نږدې او لرو کلو او ښارونو څراغونه ځلیدل، په واټونو کې موټر په چټکۍ سره لارې لنډولې، خو موږ په ستړو قدمونو داسې په پښیمانۍ روان وو لکه څوک مو چې قتلګاه ته بیايي. یوه خوا کرونده، بل خوا د ونو کتار و.
نور نو د برید له کرښې اوښتي وو. د کروندو په منځ کې اوږده سرکونه غځیدلي وو، موټر لکه عمر په چټکۍ و رباندې روان وو. زموږ د ډلې څو تنو لا د خوشحالۍ او خوشبینۍ له خندا سره و ویل:
لکه چې له سرحد نه په خیر سره تیر شوو. موږ په رښتیا له سرحد نه تیر شوي وو، موږ نور د جرمني حریم ته ننوتي وو، ځینو مسافرو اوس هم په ټوله مانا خطراحساساوه.
د مسافرو په ډله کې یوه کورنۍ وه چې څلور ماشومان یې درلودل، ماشومان یې ټول واړه، واړه وو. یو د ماشوم مور، بل یې پلار او دوه نور ماشومان، افغان مسافرینو ور سره اخیستي وو. سره له دې چې افغان قاچاقبرانو په ماسکو کې لا د ټولو له غوږه ایستلې وه چې بار او پنډکی باید چا سره نه وي چې لاره کې کیدای شي له ستونزو سره مخ شي، چې بار وړل ستونزمن نه، بلکې ناشونی به وي؛خو چا ته وايې.

## « نصیحت پـــه غـافـلانو اثر نه کا
## د سـړې اوسپـنې خوشې ټکول دي»

د ښځې په غیږ کې له ماشوم سره یو ښه غټ پنډه کی هم و، پنډه کی ما ور نه واخیست. ماشوم تې خوری و او چونګیده هم او قاچاقبر په ټینګار سره ویل چې غلی یې کړئ. ښځه داسې ډنګره وه چې لکه د چا خبره د هډوکو کړپا یې خته. ماشوم وړی و او پرله پسې چونګیده، د ماشوم له ډیرې چونګیدا سره د قاچاقبر په نس کې چړې ولویدې او ښکنځلې یې پیل کړې، مور په روانه لار د تګ په حالت کې خپل تی د ماشوم په خوله ور ننیست، خو په تي کې هیڅ شی هم نه و، مور یوه شپه یوه ورځ څه نه و خوړلي. د مسافرو په کتار کې ښځه په ما پسې را روانه وه، ما ورته و وې:
خورې پنډکی در واخله، ماشوم ما ته راکه، ګوندې له ما سره غلی شي. ماشوم مې له ښځې نه واخیست او روان شوو.
موږ په خواشینۍ او نا امیدۍ روان وو چې نا څاپه، د بریښنا په چټکتیا د ونو له اړخ نه د مسافرو په کتار برید وشو.
د سترګو په رپ کې دواړه قاچاقبران ورک شول. ما خپلو ملګرو ته لا پخوا ویلي وو که پولیس راغله، د تیښتې تکل و نه کړئ. نابلده، بینوا او بې ژبې وزرماتي مسافر محاصره شول. زه له ماشوم سره ځای پر ځای کیناستم، موږ ته اول په جرمني، چکي او بیا په انګلیسي ژبو د نه ښوریدو و ویل شول.
ما سر ښکته نیولی و، له سر سره مې د یوې اوسپنیزې میلې له تماس نه پوه شوم چې سلاح یې را ته نیولې ده او یو ښځینه غږ په پرله پسې ډول په انګلیسي ژبه را ته وایي چې و نه ښورې. ما شاته نه شول کتلای چې د نورو احوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څنګه دی، خو په خپلې اشتباه پوه شوم چې ولې د کتار په سر کې روان وم. پولیس فکر کاوه چې د کتار د سر سړی لاربنود یعنې قاچاقبر دی.
ماشوم مې په غیږ کې و او زه د پښو په سر ناست وم. زما نه ښوریدل زما په غیږ کې پرماشوم فشار راوړ او ماشوم بیا په چونګهاري پیل وکړ. پولیسه ښځه په خپله ژبه را ته لګیا وه، خو زه نه ور باندې پوهیدم چې څه وایي، بیا یې په لږ څه نرمه لهجه او ترحم سره په انګریزي وپوښتلم:
ماشوم دی درسره دی؟
ما ویل هو.
دې له خولې نه یو سوځنده اوف ویست او راته وې ویل:
ودریږه!
چې ودریدم، اول یې ما ته او بیا یې ماشوم ته ښه په ځیر وکتل، زما هم سترګې پرې ولګیدې، که ګورم د پنځه ویشت یا شپږویشت کلونو په منګ دنګه شین سترګې مې په مخ کې ولاړه وه، ور باندې پوه نه شوم چې جرمنه وه که چکې، وړوکی کله کوف ډوله ماشیندار یې په لاس کې و. شیبه وروسته یې پوښتنه را نه وکړه:
آیا ته قاچاقبر یې؟
ما ویل نه زه مسافر یم.
دې غوښتل څه نورې پوښتنې هم را نه وکړي، خو د نورو پولیسو غږ د دې پام ځان ته ور واړاوه، هغوی دواړه قاچاقبران لاس تړلي را وستل.
پولیس چې څنګه پوه شول موږ ټول مسافر یو، معمولي موټرو ته یې پورته کړو او قاچاقبران یې په پنجره لرونکو موټرو کې واچول. موږ بیا قاچاقبران و نه لیدل.
له موږ نه لوری ورک و، په لار او برنه پوهیدو. زموږ په ډله کې ځینو خدایه، خدایه کول چې بیرته مو د چک د سرحد په لوري و نه خوځوي، خو چې کله یې له موټر نه ښکته کړو، پوه شوو چې دا کومه سرحدي تانه ده او موږ د جمني او چک پولیسو په ګډو عملیاتو کې نیول شوي وو.
هلته یې ټول یوې لویې صالون ډوله کوټې ته ننه ایستو. موږ دومره مزله وهلي وو چې پرته له خوب او آرام نه مو بل څه نه غوښتل، خو آرام ته یې چیرې پریښودو. شیبه وروسته یو عسکر ډوله پیره دار راغی او تر ټولو نه مخکې یې ما ته و ویل چې راځه.
یوې وړې کوټې ته یې بوتلم، هلته د میز تر شا یو ځوان جرمن صاحب منصب په ډېرغرور سره، فاتحانه دربار کړی و. د میز په بل اړخ کې یو غنم رنګې جګ زلمی ناست و. غنم رنګی زلمی له ځایه جګ شو، ما ته یې لاس را کړ او په دري ژبه یې ما سره روغبړ وکړ، زه پوه شوم چې ژباړن دی.
له ناستې سره سم، بیا هماغه خر او هماغه ور.
څوک یې؟
شهرت دې و وایه!
له کوم ځایه راغلی یې؟
ولې راغلی یې؟
چا راوستی یې؟
اوپه لسګونه نورې ولې او ولې؟
د خبرو او پوښتنو په لړ کې یې پوه کړم چې دوی څنګه د جرمني خاورې ته زموږ په راتګ او ننوتلو خبر شول او خپل کسان یې موږ ته په کمین کې کینول.
جرمن پولیسو د خپلو امکاناتو نه په استفادې سره د برید په کرښه کې داسې کمرې لګولې وې چې د جرمني په لوري د راتلونکو خلکو تصویرونه مخامخ په تانه کې لیدل کیدل.
داسې مې هم لا اوریدلي وو چې پولیس د تصویرونو په لیدلو سره د مسافرو لارې په نښه کوي، که مسافر او نور راغلي کسان نا ځاپه په بل لوري سر شي او په ځنګله کې له پولیسو ورک شي، نو پولیس د هیلیکوپتر په وسیله لټوي او پیدا کوي یې.
د تحقیق په لړ کې ما ور ته د خپل وطن د ورانیدو، جګړو، د سر د خطرې او افغان اوږدې غمیزې اوږده کیسه را پیل کړه او دا مې غوښتل ور ته و وایم چې څنګه، څومره او ولې انسانان و وژل شول؛ خو ځوان جرمن پولیس چې زما د اوږدې ـ ښایي ورته تکراري ـ کیسې د اوریدو وخت او حوصله نه درلوده، را ته و ویل:
زه ستا وران او ودان وطن څه کوم، ته د جرمني حریم ته غیر قانوني را ننوتی یې او موږ ته د یو مجرم حیثیت لرې.
زه هم چې له اوږده سفر، لوږې، ستړیا، بې سرنوشتۍ او بې خوبۍ نه ښه پوره کم حوصلې شوی وم، ور ته ومې ویل:
هغه وطن د ټوپکوالو په خپلمنځي جګړو کې وران شو او دغه تاسو اروپایان وئ چې د خپل اصلي او پخواني دښمن شوروي د پر ګوندو کولو او ماتولو له پاره مو ټوپکیانو سره هر ډول مرستې کولې، تاسو اروپایان وئ چې افغانان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مو لکه لاس پاکی استعمال کړل او بیا مو ایسته وغورځول، ګټې او تیروتنې تاسو وکړې، ستاسو او ستاسو د لاسپوڅو د تیروتنو دروند پیټی اوس افغانان د ژوند په بیه پراوړو وړي او...

ژباړن په منظم ډول زما خبرې ژباړلې. پولیس چې زما د خبرو په ماهیت پوه شو، په داړو لاسونو یې میز په زوره و واهه، په داسې حال کې چې ما ته یې له ډیره قهره نه کتل، ژباړن ته یې و ویل:

له ده سره نورې خبرې نه کیږي، دی بوزئ.

مسؤل سړی راغی او زه یې بلې کوټې ته بوتلم او و ریې را پسې کلپ کړ. کوټه ډیره لویه وه، یوه میرمن او یو ماشوم په کې ناست وو، ښځې ژړل او ماشوم یې په غیږ کې سر ایښی و، ښځې غوښتل چې ما ته څه و وایي، خو ما نور نه د څه ویلو حوصله درلوده او نه د څه اوریدلو. په کوټه کې شا و خوا ډیرې کمپلې پرتې وې، یوه کمپله مې په ځان واچوله او څملاستم. دوه دوه نیم ساعت وروسته د چوکۍ د شخوالي له کبله را ویښ شوم، کتل مې زموږ د ډلې ډیری له تحقیق نه وروسته راغلي وو، څوک لوځ، څوک پټ ویده وو. کله چې سهار ټول له خوبه جګ شول، له یو بل نه یې پوښتنه کوله:

تا ته یې څه و ویل، له تا نه یې څه وپوښتل او...

ځینې لا په تمه وو چې دوی سره به ښه چلن کیږي، خو څنګه چې دا ډله مسافران په سرحد کې نیول شوي وو او پولیس پوهیدل چې دوی له چک نه را اوښتي دي، ځکه یې باید بیرته د چک مقاماتو ته په لاس ور کړي وای. درې شپې درې ورځې مو په همدې یوه کوټه کې سره تیر کړل، یوازې ډوډۍ او اوبه راوړل کیدل او بس، نور نه موږ د پوښتنې حق درلود او نه پولیس څه ویل.

د دوه دیرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ